محمد ایاز نوري
۷/۰۱/۲۰۰۹


## بیا هم د تېپي او ځيرې ځيګر هیواد افغانستان
## د اصلي مجرمینو او ظلم کوونکو د مدافع،
## افغان ـ جرمن انټرنټي جال په پته...!!

زما د ۱۷/۱۲/۲۰۰۸ مقاطعه لیک پسي چې ما د هیواد د یوه ملي انترنتي جال افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان له طریقه د افغان ـ جرمن جال ته لیږلی وه، دا لاندی غبرګون لیک ما تر لاسه کړ چې اوس یې زه ځواب د خپل ځانګړي عذر له کبله څه په ځنډ ورته لیکم:

----- Original Message ----- From: "AFGHAN GERMAN ONLINE PORTAL" <info@afghan-german.com>
To: …
Sent: Thursday, December ۱۸, ۲۰۰۸ ٤:۱٤ PM
Subject: AFGHAN GERMAN ONLINE PORTAL

Mohtaram Ayaz salamoona,

it is really a pity that your question under "Nazar Khwahi" has been not published, but it would have been better, if you had complained through an email as to publish an extra article to hit AGO. AGO had always published your articles with a good layout and had not deserved such a hostile lines from you.

I am sure if you knew more about the situation, as an real Afghan who loves his country, you would have never written such an article against AGO.

I hope that we see the situation as misunderstanding and continue our good cooperation.

Pa Darnesht

Sincerely yours
Your AGO Team
Mit freundlichen Gruessen
Ihr AGO Team

اړونده مسؤولينو پخپل غبرګون کي دا چي د افغانانو نظريات يې زندۍ کړي، اعتراف کړی، په عين کی يې په ما نيوکه کړې چي ما بايد چي دا موضوع په خصوصي ډول هغوی سره مطرح کړې وای، او دا چي ما د خپلی ليکني په ترڅ کی دوی د نادری کور حاضر باشان پيړندلي، دا زما يو د دښمنی عمل د هغوی په مقابل کی دی.همدا راز د دې جال تيم دا هم په ګوته کړې چي زه د اوضاع له دقيقي څېړني څخه عاجز(او ګويا دا د اګو تيم دی چي ټول افغان سياسي مبصرين کولای شي، هغوی ته سمه لارښوونه وکړي)، هغوی زما د وطن پالني پر احساس هم ډاډه نه دي او په پای کی دا سايت وايي چی ما ته لازمه نه وه چی داسي ليکلی يرغل د دوی پر اتل؟ انټرنتي جال ما ترسره کړی وای...؟!

دلته زه ضروري ګڼم د هغه جال مسؤولينو پام لاندی ټکو ته راواړوم:

په لومړي پل کي زه بايد تاسو ته په ګوته کړم چی زما دغه تحريري ټکر ستاسو سره په هيڅ صورت کومه شخصي کرکټر نلري او دلته مسأله د هغه شريف او اتل ملت پر برخليک راڅرخي چي زه يې هم د مربوطيت وياړ لرم. تاسو د جال خاوندان په خپله رضا چمتو شوي ياست د هيواد د ملي ګټو تر شعار لاندی نشرات وکړئ او جوته ده چی تاسو د وطن د دښمن سره لاس او ګريوان ياست چی دا لار نه يواخی مشکله، بلکی له لويو ننګونو څخه ډکه ده...!! ستاسو د کار او مبارزی بستيز اصل ستاسو صداقت ستاسو پکار کی دی، کوم شرط چی تاسو هغه نه مراعاتوی. تاسو په خپل غبرګون کی ماته زما د ليکنو د ښکلي چاپ له کبله خپل احسان را ځرګند کړای، پداسی حال کی چی زه په دی باور يم چی دا د راکړې او ورکړې تعامل دئ. يو ليکوال چی خپل مضمون يو جال ته ليږي، هغه سايت هم پری چليږي او ژوندئ پاتی کيږي. دلته د احسان اړول په يوه خوا د قضيي منطقي فکر ندی. تاسو زما د ليکنو پريکړه ستاسو د جال سره يو د دښمنی عمل بللی او خپل جال ته مو يو درونډ ګذار حساب کړی. زما په نزد دښمني د يوه کس يا يوه ګروپ سره ماته بل تعريف لري، او ستاسو دغه انګرېنه يو قهرجن او له سم تحليل څخه وتلي مسأله ده. دا چی زه د وضعی له صحيح ارزوني څخه سم نه شم وتلی، دا ستاسو پخپل قضاوت پورې مربوطيږي، ليکن زه کله چي زما د ډېر ټپي ملت اړوند مسأله وي، نه په چا رحم کوم او نه چا سره د پردې تر شاه معاملي کوم. تاسو د افغان ـ جرمن د جال چلوونکي بايد پوه شئ چی تاسو د خپلي اوسنۍ کړنلارې پر بناء په هيڅ ډول په رغنده او ملي خط کی روان نه ياست. زه منم چی لا تر اوسه هم بعضی صادق افغان ليکوالان تاسو سره ليکلي اړيکي ساتي، ليکن دغه د خلقي ـ پرچمي ملي خاينان، افغانستان پلورونکي ـ قاتلان څنګه ستاسو په جال کی کته او پورته کيږي؟

تاسو په ډېره سپين سترګي زمونږ د ګران هيواد د اوسنی بربادی د بنسټ ايښودونکو او له هغی جملی د پخواني پاچا د ملت ريشخند بابا؟؟ ظاهر شاه څخه په پوهاوي توګه ننګه کوی، آخر په کوم دليل او څنګه؟ که تاسو پرېکړنده توضيح لری، هغه له ملت سره شريکه کړئ چي مونږ بيده پاتي افغانان هم پری واقف شو او د هغه بابا؟ پر زيارت ګلان وشيندو. دغه په نس ډېر وړی ساتل شوی، په ځان ناروغ او له عقدو ډک نسل او د دوی له جوهر څخه همدغه داوودي کودتاچيان، وروسته اخواني کودتاچيان او بالاخره کمونيستي کودتاچيان د کوم کرغيړن فاميل له نس څخه راوزيږيدل او بيا يې په افغان تور بخته ملت سياسي يرغل وروړ؟

يو مطلب چی همدا اوس په ذهن کی راغی:

پدی وروستيو کی د چاپيريال ساتني مسأله په ځانګړي ډول په پلازمينه کابل کی حتی دغه اوسنی بی کفايته او بی پروا حکومت هم وارخطا کړی، چی يو له دې لويو ستونځو څخه په پلازمينه کی د صحي بيت الخلا (کاناليساسيون) بالکل نشتوالی دی. ښه، د کابل خصوصاً د مرکزی برخي لومړنی بنسټ د خدای بخښلي اعليحضرت غازي امان الله خان د دولت د راپرزيدو نه پس د خايني او جاسوسي نادري کورنی يعنی د لسمي لسيزې په پيل کی کېښودل شو. زه د يوه افغان په حيث د نادر شاه ـ ظاهر شاه او ورسره هاشم شاه او داوود شاه د بی نظافته سردمدارانو څخه پوښتم :

تاسو جنابان خو هم د نورو انسانانو په څېر هره ورځ د حاجت لپاره تللی، او تاسو د سر په سترګو ليدل چی د کابل ښاريان له مجبوريته د حاجت د رفعي لپاره د کابل سين ته ورکوزيدل!! آيا تاسو د خپلي دندې پر اساس دا مکلفيت نه لاره، چی هم هغه وخت مو د جرمني او يا کوم بل هيواد په تخنيکي همکارۍ مو د کابل ښار د بيت الخلاء مسأله په اساسي توګه اجراء کړې وای؟ تاسو حکومتي مشرانو په کوم وجدان او اخلاقي پرنسيپ او استحقاق د افغانستان د بيت المال څخه مياشتنی تنخواه جيب ته کوله...؟!

تاسو د افغان ــ جرمن د جال مسؤولين بيا په خپله سپين سترګی د نادر ـ ظاهر ـ او داوود شاه د شخصيتونو څخه څنګه د ملت په محکمه کي ننګه کولای شی؟

دا وی زما په لنډو ځرګندوني د نوموړي جال د ايمل په ځواب کی....

( پای )